AFGHAN GERMAN ONLINE
http://www.afghan-german.com
http://www.afghan-german.de
افغان جرمن آنلاین

مسئوولیت متن و شکل بدوش نویسندهٔ مضمون میباشد، عقیدهٔ نویسنده لزوماً نظر افغان جرمن آنلاین نمی باشد

محمد انور آخړ

۲۰۲۳/۰۵/۲۸

# د جمهوریت د سقوط عوامل
# د جنګسالارانو ونډه

(شپږمه برخه)



(پاچا خان ځدراڼ)

**په خوست او پکتیا کې پاچا خان ځدراڼ:**

د طالبانو سره د جګړې په موخه د پاچا خان ځواکونه د میرانشاه له لارې خوست ته راغلل خو په خوست کې د طالبانو او پاچا خان ځوکونو ترمنځ جګړه ونه شوه، د امریکایانو هوایي ځواکونو د طالبانو ځو پنډغالي د (مته چینې) په سیمه کې بمبار کړل، د خوست په لویدیځ د زني خېلو په سیمه کې هغه کور هم بمبار شو چې جلال الدین حقاني او ملګري یې په کې میلمانه ؤ، حقاني ټپي او ملګري او د کوربه ډېر شمېر ښځې او ماشوم ووژل شول او پاتې نور ژوبل شول. د زني خېلو د بمبار په اړه بي، بي، سي له پاچا خان څخه وپوښتل چې ولې په بمبار کې ښځې او ماشومان وژل شوي دي؟ پاچا خان چې ژبه‌ور کس نه دی په ځواب کې وویل چې د زني خېلو سیمه د طالبان پنډغالي (مته چینې) ته ډېره نږدې ده نو په خطایۍ کې بمبار شوی دی. په داسې حال کې چې نوموړي سیمه لس، پنځه لس کیلو متره د طالبانو له پنډغالي سره واټن درلود.

پاچا خان ځدران چې ځان یې د جنوبي ولایتونو د تنظیمیه رییس اعلان کړی ؤ او د ولسمشر کرزي لخوا، مرحوم حکیم تنیوال د خوست د والي په توګه لیږل شوی ؤ نو د پاچا خان او حکیم تنیوال د ځواکونو ترمنځ د ۱۳۸۱ل. ل، کال د تلې په میاشت کې ځو ځله جګړه ونښته خو د پاچا خان ځواکونه یې د خوست له ښاره د اسمعیل خېلو او مندزویو سیمې ته



افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولئ

په شا وتمبول، په دغه سیمه کې جګړه روانه وه چې له امله یې په کلیو او کورونو کې د پاچا خان د پلویانو لخوا د توغندیو توغول شوي مرمی ولګیدې، د راکټ یوه مرمی زموږ په کور هم ونښته، د خدا تعالَی فضل ؤ چې د سر او مال زیان یې نه درلود خو د حیدرخېلو په نورو کلیو کې یې مرګ ژوبله واړوله. داسي ویل کیدل چې په دې جګړه کې له پاچا خان سره د پاکستان د (ای، اس، ای) څو تنو افسرانو هم ګډون درلود، د خوست د (۲۵) فرقې قوماندان جنرال خیالباز شېرزي موږ ته وویل چې یو تن پاکستانی افسر په جګړه کې وژل شوی او د (... خټک) په نوم یې یو پوځي کارټ چې دوی ته په لاس ورغلی ؤ ښکاره کړ. په پای کې د لړم په میاشت کې د پاچا خان ځواکونه د خوست له سیمي وشړل شول.

د خوست له جګړو وروسته، پاچا خان ځدران چې د لنډ مهالي اداري لخوا د پکتیا والي په توګه ټاکل شوی ؤ، د دغه ولایت خلکو او سیف الله قوماندان لخوا ونه منل شو او سیف الله د ولایت چارې په خپل لاس کې واخیستې چې له امله یې د ۲۰۰۲ ز، کال د فبروری په دویمه نیټه په ګردیز کې د پاچا خان او قوماندان سیف الله پلویانو ترمنځ جګړه پیښه شوه، په جګړه کې تر پنځوسو تنو ووژل شول، پاچا خان ځدران چې پر وړاندې یې د ګردیز د ښار اوسیدونکي او د سیف الله قوماندان پلویان پورته شوي وو او ماتې یې خوړلې وه نو د ګردیز پر ښار یې د (بي، ام، ۱۲) اته سوه توغندي وتوغول چې له امله یې دېرش تنه اوسیدونکي ووژل شول او ډېر شمېر ټپیان شول.
پاچا خان ځدران د خوست د جګړو له امله، په تېره بیا د ګردیز پر ښار د توغندیو د توغولو له کبله د افغانانو او لنډ مهالي اداري د کرکې سبب شو، وروسته له هغې پاچا خان د ځدرانو سیمي ته ولاړ او د خوست ګردیز د سړک پر سر یې پاټک واچولو.
د لنډ مهالي اداري دفاع وزیر وویل چې د حوت په ۲۳/ ۱۳۸۱ل. ل، کال بهرنیو ځواکونو د پاچا خان له ځواکونو سره جګړه کړې ده، په دې جګړه کې پنځه تنه د پاچا خان کسان وژل شوي او یو شمېر یې ټپیان دي. پاچا خان وویل چې د حکومت پر وړاندې به مقاومت ته دوام ورکوي.
پاچا خان ځدران د مرکزي دولت پرخلاف ټولې جګړې په داسي حال کې ترسره کولې چې یو ورور یې امان الله خان ځدران، د کرزي په کابینه کې د سرحدونو او قبایلو چارو وزیر ؤ.
«کرزي څو میاشتې پرله پسې هڅه کوله چې د پاچا خان ستونزه په سوله ییز ډول هواره کړي، بالاخره هغه د اقدام پرېکړه وکړه، کرزي ویل چې د یوه جنګسالار له لوري په خلاص زړه د حکومت ننګول به نور جنګسالاران هم زړور کړي چې ورته اقدام وکړي.»
زلمی خلیل زاد لیکي:« د ۲۰۰۲ز، کال د اپریل پر دېرشمه کرزي د فهیم په ملاتړ پاچا خان ځدران ته ګواښ وکړ چې تسلیم شي، کرزي او فهیم د پاچا خان ځدران د نیولو په اړه فکر کاوه خو ما د پاچا خان د ملېشو پر ضد د جګړې لپاره د ځواکونو او امکاناتو مسئله راپورته کړه، ومې ویل: د پاچا خان اوسنی اقدام خطرناک دی خو که حکومت یې پر ضد اقدام وکړي او د حالاتو په کنټرول کې پاتې راشي نو مشروعیت به یې زیانمن شي. دوی ویل چې د پاچا خان پر ضد اقدام ته چمتو دي خو وړاندیز یې وکړ چې د حالاتو د خرابیدو په صورت کې به غوره وي چې امریکایي ځواکونه هوایي ملاتړ وکړي، د فهیم ځواکونه د ګردیز لور ته روان وو، ما د ویډیویي کنفرانس له لارې د مرستیالانو جرګه ګی ته تازه مالومات ورکول، امریکایي چارواکو ته مې وویل چې له څو میاشتو د سوله ییز حل وروسته کرزي د پاچا خان د نیولو حکم صادر کړی. موږ په خورا کړکېچن حالت کې وو، واشنګټن غوښتل چې د کرزي حکومت په ساحه کې لاسبری شي، هیډلي د بهرنیو چارو مرستیال وزیر ریچارډ ارمیتاژ او د (سي. آی. ای) مشر جون ماکلولین هم ماته ورته نظر درلود، جنرالانو (ټامي فرانګ) او (پیټر پیس) له فهیم سره د ملاتړ په برخه کې محتاط وو ځکه رمزفیلډ یې په اړه پرېکړه نه وه کړې، دوی غوښتل چې په تدریجي ډول جګړه توده شي چې له افغان ځواکونو سره د امریکایي ملاتړ زمینه برابره شي. جون ماکلولین د پاچا خان د له منځه وړو په اړه توند اقدام غوښت، هغه وویل سي. آی. اې، کولی شي په دغه ماموریت کې د کرزي مرسته وکړي، د پنټاګون چارواکو (وولویتز) او (فیت) بل نظر درلود، دوی ویل چې په داسي حالاتو کې د کرزي ملاتړ کول به له نوموړي هغه جنګسالار جوړ کړي چې د امریکا په ملاتړ خپلې ستونزې هواروي، دوی د سوله ییز حل غوښتونکي وو.»


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکني د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولئ

خلیل زاد زیاتوي:«قضیه لوړې کچې ته ورسیده، پاول، چیني، رایس او د (سي. آی. اي) مشر جورج ټینټ ټولو د کرزي د ملاتړ په اړه هوکړه وکړه، رمزفیلډ بل نظر درلود، هغه وویل موږ د افغانستان په جګړه ییز ماموریت کې تر ټولو ستره پرېکړه کوو، دا پرېکړه به مالومه کړي چې کرزی مسوولیت پر غاړه اخلي او که د امریکا پر ملاتړ تکیه کوي. ما وویل چې غفلت به موږ له ناوړه حالت سره مخ کړي، **په افغانستان کې زموږ لنډ مهاله تګلاره د کرزي د حکومت په بریالیتوب پورې تړلې ده.»**

خلیل زاد لیکي:«رمزفیلډ زما له نظر سره جوړ نه شو خو ما بل وړاندیز وکړ: په دې اړه ستاسې څه نظر دی چې کرزي ته ووایو چې موږ اوس ملاتړ ته چمتو نه یو خو که حالات خراب شول نو مرسته به درسره وکړو؟

دې خبرې هم رمزفیلډ ته خوند ورنه کړ، په دې اړه زموږ تر منځ اختلاف هوار نه شو او پرېکړه ولسمشر ته پاتې شوه، ولسمشر بوش، رمزفیلډ د ټول ټیم پر وړاندې ودرید، په داسې حال کې چې د پاچا خان ستونزه په شریدو وه، **په پنټاګون کې ناندریز وضعیت متحده ایالات دې ته اړ کړل چې د افغانستان په کورني کړکېچ کې ښکېل نه شي.»**

خلیل زاد وایي چې ما کرزي ته مشوره ورکړه چې له جنګسالارانو سره خپل وخت تېر کړي، د ملګرو ملتونو له لوري د بې وسلې کولو پروګرام به جنګسالاران په تدریجي ډول کمزوري کړي او د کابل حکومت ته وفادار ملي پولیس او اردو به پیاوړي شي، د واک د انډول بدلیدل کولی شي کرزی وهڅوي چې جنګسالارانو ته په مرکزي حکومت کې ځای ورکړي، د اوس لپاره باید کرزی د خلکو په منځ کې محبوبیت زیات کړي او جنګسالاران په ټیټه کچه تر فشار لاندې ونیسي. په لومړیو میاشتو کې د ننګونو په اړه له فکر وروسته مې د خپلو هڅو په اړه تر ټولو مهمې پوښتنې بیا راپورته کړې، په افغانستان کې د امریکا موخې کومې دي؟

د سپټمبر له پېښو وروسته په لومړیو څرګندونو کې ولسمشر [بوش] د کمزورې جګړې پر مټ خپلو موخو ته لار هواروله، د سپټمبر له پېښو دویمې اونۍ وروسته نوموړي اعلان وکړ:**«په افغانستان کې دولت جوړونې ته نه، بلکې عدالت ته پاملرنه کوو.»** د دې لپاره چې پر افغانستان یرغل توجیه نه شي ولسمشر په دغه هېواد کې د لږو سرتېرو د استولو پرېکړه وکړه.» (زلمی خلیل زاد: استازی... ۱۷۵تر ۱۷۷مخ پورې)

په پای کې پاچا خان میرانشان ته ولاړ، څه موده لا تېره نه وه چې پاکستاني حکومت نوموړی تحت الحفظ کابل حکومت ته تسلیم کړ. ځینو کسانو د هغه د محاکمې غوښتنه وکړه. ولسمشر حامد کرزي هغه وبښلو، ویې ویل: ټولو جنایتونه کړي دي... .

له هغې وروسته پاچا خان د مرکزي دولت پر وړاندې بغاوت ونه کړ، پاچا خان د ملي شورا وکالت ته غوره شو او د پاچا خان یو زوی تر پایه د ځدرانو د وزي ولسوالي ولسوال پاتې شو.

د یادولو ده چې د خوست په امنیه قوماندانی کې د حکیم تنیوال د ځواکونو، ترمنځ د امنیې قوماندان او د امنیت امر چې دواړه جهادي قوماندانان وو، دننه د قوماندانی په ودانۍ کې، کوټه په کوټه شخړې رواني وې چې مرګ ژوبلې ورسره ملې وې، د دغو جګړو له امله د خوست امنیه قوماندانی په (سپین ټل) مشهوره شوه، سپین ټل داسې سیمه ده چې د ځایي خلکو تر منځ کور په کور بدۍ وي او له هغو ټاپوګانو (برجونو) یو پر بل ډزې کوي چې د خپلو کورونو په یو کونج کې یې جوړ کړي وي، د خوست امنیي قوماندانی هم یو ټاپو درلود چې وروسته ونړید.

د دا ډول شخړو د له منځ وړلو په موخه د خوست والي حکیم تنیوال په غوښتنه یو تن مسلکي پولیس د خوست د پولیسو د امنیت امر په توګه له کابله وټاکل شو خو د خوست د امنیي قوماندان دا ډول ټاکل نه منل او ټاکل شوي پولیس افسر ته یې قوماندانی ته د ننوتلو اجازه ورنه کړه، هغه وو چې حکیم تنیوال اړ شو له امریکایي ځواکونو مرسته وغواړي.


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بنې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په خیر و لولئ



(د خواست پخوانی والي، استاد حکیم تنیوال)

نېټه:۱۴۰۲/۳/۷ل. ل

**نور بیا**

**د لیکوال آرشیف**


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکني د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکي په ځیر و لولـئ